مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۱۱/۱۲

## دې نه ډاريږم،
## چې دې هجر کې رنګ زيړی نه شم

**بل کال هم واوښت**

**ته رانغلې**

**زه يې وينمه چې:**

**د نه راتګ وير ته دې:**

**پنځ هم ژړيږي**

**هم زيـړيږي**

**او د هغې ونې**

**چې زه او ته ورلاندې ناست وو**

**او په سترګو کې مو**

**ښه د زړه خواله کړله؛**

**څانګې هم ريږدي او بچيان رژوي**

**زه هره ورځ دلته راځم**

**ورلاندې ګرځمه او تا لټوم**

**زه وفـا دار، خو چې دې سترګـو کې ناغيـړی نه شم**
**دې نه ډاريږم چې دې هجر کې رنګ زيـړی نه شم**

۲۰۱۸/۰۹/۱۷
هيدرسليف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ